# د موضوع شالید

## د اداري فساد پروړاندی د څارنی او ارزونی خپلواکه ګډه کمیټه له ملي شورا څخه غوښتنه کوي چې د کانونو په قانون کې دې یو لړ تعدیلات رامنځته کړي ترڅو د مسؤلیت منلو او حساب ورکونی کچه لوړه شي. په همدې توګه نوموړې کمیټه د کانونو د عوایدو د څرنګوالي د څارلو په اړه ځنې سپارښتنې صادروي

### د اداري فساد پروړاندی د څارنی او ارزونی خپلواکه ګډه کمیټه له ملي شورا غوښتنه کوی چې د کانونو په قانون کې دې یو لړ بدلونونه راولی تر څو نوموړی سکتور د اداري فساد پر وړاندې خوندي وساتل شي

- د کانونو د قانون مسوده د وزیرانو د شورا لخوا د ۱۳۹۱ کال د کب په میاشت کې تصویب شوی او اوس مهال د ملي شورا سره پرته ده.   د ۱۳۸۴ کال تر لومړنۍ مسودې  او تر هغو تعدیلونو وروسته چې په ۱۳۸۹ کال کې په نوموړی قانون کې رامنځته شول، دا د نوموړي قانون دریمه نسخه ګڼل کیږي.
- د کانونو لپاره حقوقي چوکاټ د افغانستان د اساسي قانون پر بنسټ ولاړ دی چې په هغو کې د کانونو او هایدرو کاربونونو لپاره دوه قانونونه، ګڼ شمیر مقررې، کړنلارې، تګلارې او نور ګڼ شمیر طرزالعملونه شامل دي.
- افغانستان د طبیعي زېرمو داسې سرچینې لري چې کولی شي د هیواد له اقتصادي ودې سره په دې شرط مرسته وکړي چې له هغو نه ترلاسه شوي عواید د پیاوړې څارنې له لارې خوندی وساتل شي.

### د کانونو د موجودو او نویو  قوانینو ترمنځ د پام وړ توپیرونه د جوازلیکونو او د داوطلبۍ په کړنلارو کې تر سترګو کیږی.

- د موجودو قوانینو برعکس، د کانونو د نوي قانون مسوده د سترو تړونونو په هکله د ملي شورا د تصویب غوښتنه نه کوي او دا هم لازمه نه ګڼي چې د کانونو او پطرولیم وزارت دې ملي شورا ته کلني رپوټونه چمتو کړي.
- تر دې وروسته لازمه نه ده چې د کانونو د کیدنې یا پلټنې د جوازلیکونو د ترلاسه کولو لپاره دې د داوطلبۍ ځانګړی او بیل غوښتنلیکونه وړاندې شي ( د کانونو د کیدنې د جوازلیکونو درلودونکو ته د کیندنو لپاره د لومړیتوب حق ورکول کیږي، مګر دا چې د کانونو د کیندنې کوم جواز لرونکی ونه غواړي او یا دا چې د کیندلو د جوازلیک د ترلاسه کولو وړتیا ونه لري).

### د کانونو د نوي قانون په مسوده کې د څارنې، د اداري فساد سره د مبارزې او د روڼتیا اړوند موضوعاتو کې ښه والي تر سترګو کیږي

- نوموړی قانون د تفتیش یا پلټنې د یوې داسې اداري رامنځ ته کیدل په پام کې لري چې دنده به  یی دا وي چې له تخنیکي پلوه د سپارښتنو او بنچمارکونو د پلی کیدو ډاډ ترلاسه او له اړونده کړنو څخه په سمه توګه څارنه او مراقبت وکړي. وزارت کولی شي یو واک لرونکی چارواکی د کار اړونده ساحې ته واستوي چې په جوازلیک او د واک ورکولو  په سند کې نغښتې وي.
- د کانونو د قانون مسوده د اداري فساد پر ضد د مبارزې په اړه یوه کوچنۍ برخه لري او د دولت کارکونکي باید بې پرې پاتې شي او د چا پلوي او ملاتړ و نکړي او په دې توګه د مالیې له وزارت او نورو اړونده دولتي ادارو نه غواړي چې په استخراجي صنایعو کې د روڼتیا د نوښت  (AEITI) د رپوټ ورکولو له معیارونو سره ځانونه عیار کړي.
- د نوموړي قانون مسوده د هغو کسانو تعریف هم غزوي چې د کانونو د کیندلو لپاره د جوازلیکونو د ترلاسه کولو وړتیا نه لري.
- نوموړې مسوده د کانونو له وزارت څخه غوښتنه کوي چې د تړونونو او په همدې توګه د اړونده فرعي تړونونو شرایط او مقررات خپاره او نشر کړي.  د نوی قانون یوه بله ماده له نوموړي وزارت څخه غواړي چې د جوازلیکونو ثبت، درخواست لیکونو، نقشو او غیر محرمو رپوټونو او هغو هوکړه لیکونو یا تړونونو ته د عامه لاسرسي په برخه کې آسانتیاوې رامنځ ته کړي چې د جوازلیکونو د درلودونکو کسانو لخوا وړاندې شوي وي.

### د کانونو د نوي قانون د روڼتیا او حساب ورکولو میکانیزمونه  کیدای شي  چې د هغو د نورو کره کولو، صریح او روښانه کولو او لاپسې غزولو له لارې نور هم پیاوړي شي

- د اداری فساد پر وړاندې د مبارزې اړونده مادې باید په تړونونو او فرعي تړونونو کې د اداري فساد سره د مبارزې په اړه د یوې فقرې غوښتنه وکړي.

- د نوموړي قانون د مسودې کلمات باید صراحت وومومي تر څو داړ ترلاسه شي چي په رښتينی ډول ترونونه په بشپړه توګه خپرېږي. د جوازليکونو د درلودونکو لپاره د ګټه اخيستني د مالکيت اړونده معلومات هم بايد خپاره شي او دا ټکی بايد روښانه کړي چي د جوازليکونو او قراردادیانو د کنترول لپاره پر هر ډول تغير او بدلونونو باندی محدوديتونه د مالکيت د ځنځير په هره کچه کي د مالکيت د تغير يا بدلونونو په برخه کی د اجرا وړ ګڼل کيږي.

**د کانونو د قانون مسوده د حق الامتياز د ونډې د ټاکلو د رژيم په اړه ډېر لږ تفصيلات برابروي**

- د قانون نوموړي مسوده دي چاري ته پاملرنه نه کوي چي د حق الامتيازونو يا په توليد يا ګټه کي د ونډي يا برخي اندازي څنګه وټاکل شي او د هغو د سنجش اساس او بنسټونه هم نه په ګوته کوي (د بيلګي په توګه بايد د توليد د کچي مطابق او يا هم د هغو د ارزښت سره سم وټاکل شي).

**د اغيزمنو تولنو له ښکيلتيا پرته د کانونو د نوي قانون د ځنې مادو پلي کول ښايی ستونزمن وي**

- په اړونده سيمه کي د تولنو ښکيلتيا به د تولنی له خوا د کانونو د اړونده فعاليتونو د منلو چاره داړمنه کړي او دا به د ترونونو د څارلو او پلی کولو د کچي د لوړولو لپاره يوه اغيزمنه لاره وي.

**د اداري فساد پروړاندی د څارنی او ارزونی خپلواکه ګډه کميټه اوس مهال د کانونو او پطروليم د وزارت اړوند هغه نوښتونه او ګامونه څاري چي د پلي کيدو په بيلابيلو پړاونو کی دي**

- د اداري فساد پروړاندی د څارنی او ارزونی خپلواکه ګډه کميټه اوس مهال د خپلو شپږو سپارښتنو او د ولسمشر د ۴۵ ګڼي فرمان د دوو مادو پلي کول څاري او ارزوي يی. نوموړي مادي د کرنلارو د طرحي، د څارني او مراقبت د وړتياوو د کچي لوړول، په موجوده کرنلارو يا طرزالعملونو کي د اداري فساد ضد ميکانيزمونو نغاړل او د وزارت په اړونده چارو کي د روڼتيا او شفافيت د کچي د لوړولو په ګډون يو لړ موضوعات تر خپل پوښښ لاندی نيسي.
- نوموړي وزارت د ډېرو سپارښتنو د پلي کيدو په هکله له خانه پرمختګ ښودلی دی. مهمي کرنلاری يی وړاندي کړي او د ترونونو د اړونده خبرو اترو او جوړ جاړي په اړه يی ځني ګامونه پورته کړي دي. په همدي توګه يی د اداري فساد سر د مبارزي په اړه هم ځانګړی ميکانيزمونه معرفي کړي دي.

**د اداري فساد پروړاندی د څارنی او ارزونی خپلواکه ګډه کميټه د دې لپاره جوړه شوی ترڅو په افغانستان کی د اداري فساد پر وړاندي د مبارزې په برخه کی ملي او نړيوالی هڅی په خپلواکه توګه وڅاري**

- د اداري فساد پروړاندی د څارنی او ارزونی خپلواکه ګډه کميټه د اداري فساد پروړاندی سپارښتني او بنچمارکونه وضع کوي او د داړ د ترلاسه کولو لپاره د هغوی د اغيزمن پلی کيدو څخه څارنه او ارزونه سرته رسوی.
- د اداري فساد پروړاندی د څارنی او ارزونی خپلواکه ګډه کميټه د اداري فساد پر وړاندې د مبارزې په برخه کي ملي او نړيوالي هڅي په خپلواکه توګه څاري
- د اداري فساد پروړاندی د څارنی او ارزونی خپلواکه ګډه کميټه له دريو تجربه لرونکو ملي او دريو نړيوالو کارپوهانو څخه جوړه شويده
- د اداري فساد پروړاندی د څارنی او ارزونی خپلواکه ګډه کميټه عامه خلکو، ملي شورا، ولسمشر او نړيوالي تولني ته په هرو شپږو مياشتو کي رپوټ ورکوي.

**د لا ډېرو معلوماتو د ترلاسه کولو لپاره د اداري فساد پروړاندی د څارنی او ارزونی د خپلواکي ګډي کميټي سره په لاندي پتو اړيکی ټينګی کړئ:** www.mec.af contact@mec.af +93 (0) 798 750 527